education above all
التعليم فوق الجميع

# خپل لیکوال شئ(دریمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضیحات | زده کوونکي به د کیسې لیکلو مختلفې برخې په شمول د کرکټرونو، داستان او د لیک او لوست تخنیکونه به زده کړي او همدا راز هغوی به په یوه نوونښتکره توګه سره د خپل بې کلمو یا انځوریز کتاب لیکوالان شي. |
| مخکښه پوښتنه | څه شی کیسه جالبه کوي؟ |
| ټولټال اړین وخت | په ۵ ورځو کې ۵ ساعته |
| اړیني سرچیني | پنسل، ورقه، رنګې |
| د زده کړو پایلې | - د اغیزناکه تخنیکونو نه کارول، د تخیلي او ریښتینو پیښو په شمول د کیسې ځانګړتیاوي پېژندل، تشریحي معلومات، او د پیښو روښانه تسلسل د اغیزناکه تخنیکونو نه کارول<br>- د یوې نظریې او محتوا په جوړولو سره د لوستونکو متمرکزه کول او مشغوله کول او د ویونکي او کرکټرونو معرفي کول؛ د یوې پیښې د تسلسل تنظیمول چې هغه به طبیعي او منطقي ډول سره برملا شي.<br>- د یو وخت د جوړېښت څخه د بل وخت جوړښت ته د تسلسل د تغیر لپاره او د تسلسل د انتقال لپاره د بیلابیلو انتقالي کلماتو، عبارتونو، او فقرو څخه کار اخیستل، او همدا راز د تجاربو او پیښو تر منځ د اړیکو ښودل<br>- د تجربو او پیښو د رامنځته کولو لپاره د ډایلاګ او تشریح کاروونه او یا هم د کرکټرونو ځوابونه حالاتو ته ښودل<br>- د پیښو د تسلسل د مدیریت کولو لپاره د انتقالي (د ربط) کلماتو او عبارتونو کارونه<br>- د مختلفو ژانرو (طرزونو یا نوعو) پیژندنه: ساینسي تخیل، ویرونکي، کامیډي، رومانس او داسي نور.<br>- د ګرافیک اورګنایزر (د ګرافیک مدیریت کوونکي) په کارولو سره د خپلو لیکنو په اړه فکر کول<br>- د کیسې په ویلو کې نووښت |
| پخوانۍ زده کړې | هیڅ |

## لومړۍ ورځ

د خپلو د خوښې د کیسو په پیدا کولو سره به نن تاسو د لیکلو پروسه زده کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |
| ۱۰ دقیقې | • د هغو کیسو له مخې چې زده کوونکو لوستلې دي، هغوی دې د خپلې خوښې کیسه را په یاد کړئ<br>• کچیرته تاسو یوې لیکلې کیسې (یا یو وړوکي ناوول او داسې نورو) ته لاس رسی نه لری، تاسو کولی شی د یوې پیښې په اړه چې ستاسو په ژوند کې پیښه شوې وي، فکر وکړی. (د بېلګې په توګه، ستاسو د زوکړې ورځ، ستاسو په ټولنه کې د یوه جشن مراسم او داسې نور). همدا راز، تاسو کولی شی د یوه فیلم، تلویزوني برنامې، او یا دیوې کیسې په اړه چې تاسو پرې پوهیږئ فکر وکړئ. (د یوې کوچنۍ کیسې د لوستلو لپاره لومړی ضمیمه وګورئ). |
| ۱۵ دقیقې | د کیسې په اړه فکر وکړئ. لاندې ځینې لارښوونکې پوښتنې شته چې تاسو سره مرسته کولی شي:<br>• څه شي دا کیسه تاسو ته ډیر جالبه کړې ده؟<br>• د کیسې تر ټولو غوره برخه څه وه؟<br>• د کیسې په بیلابیلو برخو کې تاسو څنګه احساس درلود؟<br>• آیا تاسو د راتلونکې پیښې په اړه لیواله وی؟ لامل یې څه وه؟<br>• د کرکټرونو او تنظیماتو په اړه مو څه شی خوښ شول؟<br>• ددې کیسې لپاره ستاسو په نظر بل کوم پای ممکن وه؟ |

**۱۵ دقیقې**

د کیسې د ځینو برخو د معلوملو لپاره د یوې محاورې (خبرو اترو) په ترسره کولو سره پیل کړئ:

- *عنوان* – د کیسې نوم (د بیلګې په توګه، ګالډیلاکس او درې خرسونه)
- د کیسې *لیکوال*، یعني: دا کیسه چا لیکلې ده (د بیلګې په توګه رابرټ سووتې)
- د کیسې کرکټرونه چې د کیسې اصلي خلک/حیوانات دي. د بیلګې په توګه: ګالډیلاکس او درې خرسونه
- د کیسې *تنظیمات* چې د کیسې په اړه جزئیات ورکوي لکه د کیسې د پیښیدلو ځای او داسې نور. د بیلګې په توګه، د دریو خرسونو کور – د اوسیدو خونه، د ویده کیدو خونه او داسې نور.
- د کیسې د وخت یا زمان دوران یا د کیسې د پیښیدلو وخت او ځای – په دې وروستیو کې، په آینده یا راتلونکې کې، ۲۰۰ کاله وړاندې او داسې نور.
- د کیسې داستان، د کیسې اصلي پیښې، چې د لیکوال په واسطه جوړې شوې ،لیکل شوې او د یو بل سره د اړیکول لرونکو پیښو د تسلسل لپاره وړاندې شوې وي. یو داستان لاندې درې برخې لري:

| پیل | وسط (منځ) | پای |
|---|---|---|
| *تفصیلي تشریح*<br>د ابتدایي کرکټرونو نومونو، تنظیماتو، موودې، او وخت معرفت<br>شخړه – ابتدائي ستونزه چې د کیسې داستان ته یو جهت ورکوي. دا معمولا د کیسې د هیرو (قهرمان) اصلي موخه ده چې باید ترلاسه یې کړي او یا یې حل کړي. | د عمل را پورته کیدل(پیښیدل) – هغه پیښې چې د کیسې منتها او یا هم اوج ته د رسیدلو لپاره زمینه برابروي، د کرکټرونو د جوړښت په شمول او د هغو پیښو په تنظیمولو کې چې په کیسه کې معلقتیا را پیدا کوي.<br><br>د کیسې منتها یا اوج – د کیسې تر ټولو ډیره هیجانه کوونکې برخه ده او د اصلي کرکټر داستان یا موخې د تبدیل لپاره یوه اړینه نقطه ده | *د عمل غورځیدل*<br>هرهغه څه چې د کیسې په اوج یا منتها کې ترسره کیږي په شمول د داستان د راغونډولو نقطې، پوښتنې چې ځواب شوې وي، او د کرکټرونو جوړښت<br><br>*د حل لاره* همیشه خوشحاله نه وي، مګر کیسه بشپړه کوي. دا کولی شي یو لوستونکی د ځینو پوښتنو سره پریږدي، یا ځوابونه ورته ورکړي، پریښانه یې کړي او یا هم هغه ته رضایت ورکړي. |

- د کیسې ویونکی، هغه غږ چې د کیسې هغه داستان وایي چې مونږ یې په کیسه کې وینو. دا ممکن داسې یو کرکټر واوسي چې د کیسې پیښې را په یادوي.

**۲۰ دقیقې**

- په ګرافیک اورګنایزر (مدیریت کوونکي) کې د کیسې د داستان معلومول په دې مانا سره چې د کیسې بورډ (تخته) جوړول. (تاسو کولی شی دوهمه ضمیمه د م بیلګو لپاره وګوری.)
- د هرې برخې لپاره یو پرګراف ولیکئ چې له ۳ څخه تر ۴ پورې بشپړې جملې ولرې.
- تاسو همدا راز کولی شی د کیسې نقشه جوړه کړی ترڅو دا فعالیت لا په زړه پورې کړئ او دا به له تاسو سره مرسته وکړي چې د هر کرکټر لپاره ډایلوګونه ولیکی.

د کیسې د نقشې یوه نمونه په لاندې ډول سره ده:




**دوهمه ورځ**

نن ورځ به تاسو خپل نووښت د کیسو د لیکلو څخه مخکې ترلاسه کړئ. همدا راز، تاسو به د کیسې ویلو په فعالیت کې ښکیل شی.

| فعالیت او توضیحات | وراندیز شوی وخت |
| --- | --- |

| | |
|---|---|
| **۱۰ دقیقې** | • له ۱۰ څخه تر ۱۵ د کیسو د پیل جملې ولیکئ، هغوی پرې کړئ او په یوه متوسطه پلاسټیکي خلطه کې یې ځای پرځای کړئ. (دا خلطه باید د داسې یوه پلاسټیک، ورقې یا ټوکر څخه جوړ شوې وي چې مینځ یې ښکاره نه شي.)<br>ځینې بیلګې:<br>• یوه ورځ زه د خوب څخه راپورته شوم او هیڅ چا هم نشوم لیدلی.<br>• رئیس جمهور وویل چې... |

| | |
|---|---|
| | • زه یو کیشپ یم چې په یوه ډنډ کې وسیږم، زه ....<br>• په کور کې زما د خوښې خونه، پخلنځای (اشپزخانه) ده.<br>• هغه ورځ زما تر ټولو غوره ورځ وه.<br>• ونو ته ختل .....دي<br>• زه غواړم چې ---------- شم کله چې زه غټ شم. بیابه زه....<br>• داسې یو قانون وه چې .....<br>• کاشکې وکوالای شم هغه وخت له هیره وباسم کله چې ما -------- څکه چې .......<br>• مشران خلک ...... |

education above all
التعليم فوق الجميع

| | |
|---|---|
| **په هر ځل کې ۵ دقیقې** | تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي باید د خلطې یا بیک څخه یو توکی پرته له دې چې هغه ته وګورئ، را پورته کړئ او د هغې په اړه یوه کیسه ولیکئ.<br><br>● کله چې کیسه وایئ، کوښښ وکړئ چې **موصل ضمیرونه** وکاروئ (څوک، دچا، چاته، کوم) او **موصل قیدونه** (چیرته، کله، او ولې).<br>● کله چې تاسو یوه کیسه وایی، کوښښ وکړئ چې **انتقالي کلمې** وکاروئ. تاسو کولی شی د انتقالي کلمو یو لیست جوړ کړئ، تاسو باید د یوې یا دوه جملو د ختمولو څخه وروسته یو انتقالي کلمې وکاروئ. (تاسو کولی شی چې د انتقالي کلمو لیست په ضمیمه کې وګورئ)<br><br>د بیلګې په توګه، کچیرته تاسو د «یوه ورځ چې زه د خوبه را پاڅیدم، زه چا نشوم لیدلی» جمله انتخاب کړئ، تاسو کولی شی همدې جملې ته په لاندې طریقو سره دوام ورکړئ:<br><br>- خونه ډیره تیاره وه. نو ما کوښښ وکړ چې د کړکۍ څخه بهر وګورم. ټول شیان ماته هماغسې ښکاریدل څنګه چې ول، یواځې ما نه شو کولی چې خپل ځان په کړکۍ کې ووینم! نیږدې وه چې له ډاره چیغه کړم، خو بیا پوه شوم چې دا یو خارق العاده قدرت دی چې ما هر وخت غوښتل تر لاسه کړم.<br><br>- <u>بلآخره</u> زه سرک ته ووتم او په خلکو مې ټوکې کول پیل کړل – ما د هغوی د عکس العمل څخه ډیر خوند اخیسته. <u>که څه هم،</u> یو ډیر بد کار را پیښ شو. زه د ټوکو کولو په منځ کې وم چې بیرته ښکاره شوم (د لیدلو وړ شوم)!<br><br>- <u>اوس،</u> زه بیرته خپل پخوانۍ ستړي کوونکي ژوند ته ستون شوم، او ددې کوښښ مې کاوه چې په دې پوه شم چې څه پیښ شوي ول. <u>ترهرڅه وروسته،</u> مونږ کولی شو چې هرکله چې وغواړو دلیدلو وړ ونه اوسو!<br><br>یادداښت: هغه کلمې چې د هغوی لاندې خط کش شوی دی، د انتقالي کلماتو (د ربط کلمو) په نامه یادیږي چې تاسو کولی شی هغوي د خپل لیسټ څخه وکاروي.<br><br>- **څومره ډیر چې کولی شی** جزئیات او معلومات ورکړي، او ددې په اړه فکر وکړئ چې ستاسو کرکټر به څه ووایي.<br><br>**لارښوونه:**<br><br>ځینې پوښتنې چې تاسو سره په چمتووالي کې مرسته کوي:<br><br>● ستاسو د کیسې کرکټر/کرکټرونه څوک دي؟<br>● ستاسو د کیسې کرکټرونه څه شی ویني او اوري؟<br>● بل څوک پکې ښکیل دي؟ |

| | |
|---|---|
| | • هغه ځای چې دوی پکې اوسیږي، څنګه ښکاري؟<br>ځيني رهنمايي لرونکي پوښتني چې تاسو سره د کیسې په وسطي برخه کې مرسته کوي، په لاندې ډول سره دي:<br>• ستاسو کرکټر څه ستونزې لري؟<br>• بله څه پېښه ترسره شوه؟<br>ځيني رهنمايي لرونکي پوښتني چې تاسو سره د کیسې په پای کې مرسته کوي، په لاندې ډول سره دي:<br>• آیا ستاسو کرکټر په دې وتوانیده چې خپلې ستونزې حل او فصل کړي؟<br>• ددې ستونزې د حل لاره څه وه؟ |
| ۵ دقیقې | • ددې تمرين د ترسره کولو لپاره ددې په اړه فکر وکړئ چې څه ډېر ستونزمن ول او څه ډېر خوندور. |
| ۱۵ دقیقه | د خپل د تفکر په نووښت او د کیسې ویلو د مختلفو برخو په پوهیدلو سره، د خپلې کیسې د موضوع په انتخاب سره به د خپلې کیسې په پلان کولو باندې پیل وکړئ. ځيني مفيدې چمتو کوونکې پوښتنې په لاندې ډول سره دي:<br>• د خپل د خوښې دوه حيواناتو په اړه يوه کيسه وليکئ.<br>• د خپل د خوښې يو جادويي مخلوق په اړه يوه کيسه وليکئ.<br>• داسې يوه کيسه وليکئ چې په هغې کې تاسو او ستاسو يو نيږدې ملګری او يا هم ورور او يا خور شتون ولري.<br>• داسې يوه کيسه وليکئ چې په هغې کې ستاسو د خوښې يو فعاليت ښکيل شوی وي.<br>د لاندې موضوعاتو په اړه فکر وکړئ:<br>• کرکټرونه څوک دي؟ د هغوی نومونه څه دي؟ کوم احساسات، نظريې يا مزاج هغوی توصيف کوي؟<br>• تنظيمات څه دي؟<br>• دا کله پيښيږي؟<br>• څه پيښيږي او يا ستونزه څه ده؟<br>• د حل لاره يې څه ده؟<br>**لارښوونه:** هيڅ بد نظر شتون نه لري او همدا راز تاسو کولی شی د خپلو کيسو په اړه بار بار فکر او بيا کتنه وکړی. د لاندې موضوعاتو په اړه فکر وکړئ:<br>- تاسو به څنګه يوه شی چې کيسه به کله پای ته ورسيږي؟<br>- ستاسو په نظر لوستونکي به ستاسو کيسې ته څنګه عکس العمل وښايي؟ |

## دريمه ورځ

نن ورځ به تاسو د مختلفو برخو په ليکلو او انځورولو سره د کيسې د مختلفو برخو د جزئياتو په اړه خپل معلوماتو ته توسعه ورکړی

| وراندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | • د یوې کیسې د تختې په جوړولو باندې پیل وکړئ. (دوهمه ضمیمه وګورئ)<br>• په هره برخه کې د کرکټرونو تر منځ محاوره اضافه کړئ. |
| ۱۵ دقیقې | د بیلابیلو صفتونو په اړه فکر وکړئ:<br><br>صفتونه هغه کلمې دي چې ځایونه، خلک، شیان او پیښې تشریح کوي. ځینې صفتونه یواځې د خلکو لپاره کارول کیږي، او نور صفتونو د نورو شیانو د تشریح کولو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه، «اوچت» داسې یوه کلمه ده چې د خلکو او شیانو دواړو د تشریح لپاره کارول کیږي، مګر تاسو نشی کولای دا دی یوه تنظیم لپاره وکاروی. یوه ورقه په څلورو برخو باندې وویشئ او په هغې باندې د لاندې کلمو څخه له ۳ تر ۵ کلمې ولیکئ.<br><br>**هغه کلمات چې ځایونه تشریح کوي:** • ګڼه ګوڼه لرونکی • پراخه • • •<br>**هغه کلمات چې خلک تشریح کوي:** • لوړ • هوښیار • • •<br>**کلمات چې هغه شیان تشریح کوي چ ې ترسره کیږي:** • متعجب کوونکی • ویرونکی • •<br>**هغه کلمات چې شیان تشریح کوي:** • رنګین او شایسته • وړوکی • •<br><br>• څه به وشي کچیرته مونږ هغه کلمات چې د ځایونو د تشریح کولو لپاره کاروو د خلکو د تشریح کولو لپاره وکاروو؟ دداسې لارو چارو په اړه فکر وکړئ چې تاسو کولی شی صفتونه په نووښتګره توګه سره وکاروئ. |

التعليم فوق الجميع | education above all

| | |
|---|---|
| **۱۵ دقیقې** | له دې څخه وروسته، د هغو کلمو له سیټ څخه په ګټه اخیستنه چې تاسو یې په اړه فکر وکړ، د کیسې هرې برخې لپاره (تنظیمات، کرکټرونه، او پیښه او حل لاره) له ۳ څخه تر ۵ پورې بشپړې جملې ولیکئ.<br>• تنظیمات: د بیلګې په توګه: دا یو زرغونه پارک وه چې رنګارنګ ښکلي ګلان یې درلودل<br>• اصلي کرکټرونه: د بیلګې په توګه: روزې چې یوه پینځه کلنه د ښوونځي انجلۍ ده او هانس چې یوه سپینه ښکلې مرغاوۍ |

| | |
|---|---|
| | • اصلي پیښه او یا د حل لاره: د بیلګې په توګه، په هماغه دوبي کې طوفان را پیښیدل ډېر زیات ممکن وه؛ «روزي یوه ډیره ښکلې نظریه درلودله»<br><br>کله چې تشریحات بشپړ شول، ددې په اړه فکر وکړئ چې تاسو د کیسې هرې مختلفې برخې ته څه اضافه کولی شی.<br><br>لارښوونه: کچیرته تاسو د صفتونو په اضافه کولو کې ستونزه لری، تاسو باید یو څو جملې ولیکئ، بیا په هماغو جملو کې اسمونه پیدا کړئ او حلقې ورڅخه تاوې کړئ. له دې څخه وروسته د هماغو اسمونو (نومونو) مخې ته ځینې داسې کلمې ولیکئ چې هغوی تشریح کړای شي. د بیلګې په توګه، که چیرته تاسو ولیکی چې «په یوه پارک کې ډیر ګلان موجود دي.» لومړی، تاسو په دې جمله کې نومونه (اسمونه) مشخص کړئ. بیا د پارک او ګلانو له کلمو څخه حلقه تاوه کړئ ځکه چې هغه نومونه دي. تاسو کولی شی د همدغو کلمو مخې ته تاسو کولی شی ځینې کلمې لکه، پراخه، زرغونه، ښکلی او داسې نورې کلیمې د پارک لپاره وکاروی او رنګارنګ، کوچني او ښکلي او داسې نور د ګلانو لپاره وکاروی.<br><br>تاسو همدا راز کولی شی د هغوی په کیسه کې قیدونه هم اضافه کړی. قیدونه هغه کلیمې دي چې د فعل د تشریح کولو لپاره کارول کیږي. فعلونه = منډه وهل، خوړل، ویده کیدل، خبرې کول او داسې نور.<br><br>بیلګې:<br><br>مور په **موسکا** سره وویل: خپل لاسونه ووینځه.<br><br>مونږ په **ګړندۍ** توګه د بسونو تم ځای ته ولاړو.<br><br>تېره شپه ما ډیر **ښه** خوب وکړ.<br><br>په پورتنیو مثالونو کې، هغه کلیمې چې سور رنګ لري فعلونه دي او هغه کلیمې چې په **ډبل** خط سره لیکل شوي دي، قیدونه دي. په خپله کیسې کې د مناسبو قیدونو د کارولو په اړه فکر وکړئ. |

| | |
|---|---|
| ۱۵ دقیقې | د خپلې کیسې مختلفو برخو ته په اضافه کولو باندې پیل وکړئ.<br><br>د کیسې پیل: ددې په اړه فکر وکړئ چې ستاسو د کیسې لوستونکي او یا هم اوریدونکي د څه شي په اړه غواړي پوه شي او همدا راز تاسو څه غواړئ چې د کیسې په پیل کې یې له هغوی سره شریک کړئ. لاندې پوښتنې کولی شي تاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي:<br><br>• دا چې دا تر ټولو لومړی ځل دی چې ستاسو د کیسې لوستونکي ستاسو د کیسې په اړه لوستل کوي او یا یې اوري، تاسو کوم شیان غواړئ له هغوی سره د کرکټرونو په اړه شریک کړئ؟<br>• د کیسې د محل او یا ځای په اړه لوستونکو ته غواړئ څه ووایاست؟<br>• دغه کرکټونه په نورمال شکل سره څه ترسره کوي او ددوی یوه نورماله ورځ څه رنګ ښکاري؟<br><br>د کیسې وسط: ددې په اړه فکر وکړئ چې ستاسو د کیسې لوستونکي ا یا هم اوریدونکي د څه شي په اړه غواړي پوه شي او همدا رزا تاسو څه غواړئ چې د کیسې د وسط په اړه یې له هغوی سره شریک کړئ. اندې پوښتنې کولی شي تاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي:<br><br>• څه شی به دا کیسه جالبه کړي ترڅو لوستونکي یې ویلو ته دوام ورکړي؟ شاید یو غیر مترقبه پیښه!<br>• هغه ستونزه او یا پیښه چې رامنځته کیږي څه به واوسي؟ |
| | • دا د هغوی د نورمال ژوند څخه چې په لومړۍ برخه کې یې درلود، څومره توپیر لري؟<br><br>• آیا تنظیمات هماغه دي او که تبدیل شوي دي؟ |

## څلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو د کیسې په پای باندې فکر کړئ او همدا راز، د کرکټرونو د احساساتو د لا توضیح لپاره به تشریحات ورکړئ.

| وراندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | د کیسې پای: ددې په اړه فکر وکړئ چې ستاسو د کیسې لوستونکي ا یا هم اوریدونکي د څه شي په اړه غواړي پوه شي او همدا رزا تاسو څه غواړئ چې د کیسې د پای په اړه یې له هغوی سره شریک کړئ. اندې پوښتنې کولی شي تاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي:<br><br>• څه شی به مرسته وکړي ترڅو ستاسو کیسه د لوستلو لپاره ډیره زړه راښکونکې شي؟<br>• هغه ستونزه او یا هم پیښه چې رامنځ ته شوې ده، څنګه حل کیدلی شي؟ د حل لاره یې څه کیدلی شي؟<br>• آیا تنظیمات یې هماغسې دي او که تغیر یې خوړلی دی؟<br>• کیسه به څنګه پای ته ورسیږي او کرکټرونه به په کوم حال پاتې شي؟ |

| | |
|---|---|
| **۲۰ دقیقې** | • ددې لپاره چې د کیسې کرکټرونو ته لا ډیر دقت ورکړئ، تاسو کولی شی د کیسې په هره برخه لکه پیل، وسط او پای کې خپلو کرکټرونو احساساتو او افکارو ته توضیحات ورکړئ.<br>• د کرکټرونو د احساساتو په اړه فکر وکړئ چې د کیسې په اوږدو کې څنګه توپیر مومي.<br>• ددوی د دغه احساس کولو لامل څه وه؟ او څه شي د دوی د دغه احساس ته تغیر ورکړ؟<br>لارښوونه: کچیرته تاسو ددغه فعالیت په ترسره کولو کې ستونزه لرئ، تاسو باید د کرکټر د حالت تمثیل د خپلو ټولګیوالو او یا هم د خپلو ورونو او خویندو سره ترسره کړی. کله چې د کرکټر احساس بدلیږي هغه په نښه کړئ.<br>• یو د مزاج اندازه کوونکی چمتو کړئ چې د کیسې په بیلابیلو برخو کې لکه پیل، وسط او پای کې د کرکټر احساسات روښانه کړي. ددوی د احساساتو به اړه کوښښ وکړی یو څو جملې ولیکی. (د بیلګې لپاره څلورمه ضمیمه وګورئ)<br>• کله چې تاسو لیکل کوی، تاسو باید صفتونه، د نداء علامه، او د کوټیشن مارکس به پام کې ونیسی.<br><br>باید په یاد مو وي چې د نداء علامه هغه وخت کارول کیږي کله چې یو څوک خپل حس په پیاوړې توګې سره ښکاره کوي او یا هم په یو څه باندې تأکید کوي. د بیلګې په توګه:<br><br>- ټول ډیر هیجانه ول او هغوی ټولو غوښتل چې په خپل نوبت کې د ټیمي سره لوبه ترسره کړي، هغوي د لوبې څخه ډیر خوند واخیسته! |
| | باید په یاد مو وي چې کوټیشن مارکس هغه وخت کارول کیږي کله چې مونږ غواړو هغه څه ولیکو چې یوه کرکټر ویلې وي. د بیلګې په توګه:<br><br>- کله چې پلار له خوبه پاڅیده ویې لیدل چې به کوټه کې ډیره بې نظمي وه. هغه وویل:"دا دومره ګډوډي ولې ده؟" |
| **۲۰ دقیقې** | اوس مختلیفې ادبې څانګې (ژانراوي) وپیژنئ:<br><br>- کامیډي<br>- ډراما<br>- رومانس<br>- ساینسي تخیل<br><br>• که چیرته دا کیسه یوه کامیډي وای نو د کرکټر احساساتو به څنګه توپیر موندلی وه؟ او که چیرته ډرامه وی؟ کچیرته رومانس وی؟ او یا هم ساینسي تخیل وی؟<br><br>د کیسې د مختلفو توکو (لکه، داستان، نظریه، تنظیمات او داسې نورو) په اړه فکر وکړئ چې به دې پروژه کې مو زده کړل. دغه توکې به په هره ادبې څانګه کې څنګه تغیر پیدا کړي؟ |

پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو د زده کوونکو د ټولې اونۍ فعالیت د یوه کتاب په څیر یوځای کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۵ دقیقې | • تاسو کولی شی د یوه کتاب لپاره چې ۹ صفحې ولري. ورقې قاتې کړی. ( د هرې برخې لپاره باید ۳ ورقې واوسي – د پیل لپاره، د وسط لپاره، او د پای لپاره) او همدا راز هرې صفحې ته په آخر کې باید یوه شمیره هم ورکړی.<br>• یوه بله جدا ورقه باید د کتاب د پوښ او شاته برخې لپاره هم قات کړی. |
| ۳۰ دقیقې | • د هرې برخې لپاره کوښښ وکړئ چې لږ تر لږه ۳ پرګرافونه چې هر یو یې ۵ مکملې جملې ولري ولیکی.<br>• تاسو کولوی شی ددغه فعالیت د ترسره کولو لپاره له هغو جملو څخه کار واخلی چې به ۳ او ۴ ورځ کې مو لیکلې وي، او همدا راز کولی شی نوې جملې هم اضافه کړئ کچیرته ورته اړتیا لیدل کیږي او یا یې تاسو غواړی.<br>• باید په یاد مو وي چې انتقالي کلمات (وصل کوونکي توري) وکاروی لکه: لومړی، بیا، له هغې څخه وروسته، یوځل، څکه چې، او داسې نور. همدا راز، تاسو باید د لیکدودو نور قوانین لکه سمه نښه ایښودنه او داسې نور په پام کې ونیسئ. |
| ۵ دقیقې | • د خپل کتاب لپاره یو نوم یا عنوان غوره کړئ او خپل نوم د کتاب په پوښ باندې د لیکوال په حیث ولیکئ.<br>• تاسو همدا راز کولی شی ورقو کې رسامۍ وکړئ، د هغوی شکل ته ډیزان ورکړی، او د کتاب پوښ هم طراحې کړی. |
| | • ستاسو کتاب اوس دې ته چمتو دی چې د کورنۍ له غړو سره یې شریک کړی او په لوړ غږ سره ستاسو کتاب ولوستل شي. خپله کیسه خپل مور او پلار ته واوروئ او له هغوی څخه د خپلې کیسې په اړه فیډبک وغواړئ (نظر غوښتنه وکړئ). دا فیډبک (نظرغوښتنه) باید لاندې موضوعات له ځانه سره ولري:<br>○ هغه څه چې هغوی د کیسې په اړه خوښ شول<br>○ هغه څه چې هغوی د کتاب په اړه خوښ شول<br>○ هغه څه چې هغوی یې په اړه غواړي نور هم پوه شي<br>○ هغه څه چې لا بهتره کیدلی شي<br><br>• د نظر ورکوونې پر بنسټ، خپلې کیسې او یا هم کتاب کې مثبت بدلونونه راولئ او همدا راز ددې په اړه فکر وکړئ چې په دې کیسه کې کوم شی ستاسو ډیر خوښ شول او کوم شی تاسو ته ډیر ستونزمن وه. |

## د ارزوونې معیارونه

- د کیسې د داستان په جوړولو کې نووښت او خلاقیت
- د کیسې د نقشې په جوړولو او رسامۍ کې وضاحت او نووښت
- د لیکل شوي متن ساده توب او بشپړتیا
- د لیکدود ټول قوانین په پام کې نیول (لکه د صفتونو سمه کاروونه، د نداء علامه او داسې نور)
- د کیسې پرله پسې والی او ترتیب
- په کیسه کې د یوې ستونزې ځای پرځای کول او د حل لاره پیدا کول

### د غني کوونې اضافي فعالیتونه

- زده کوونکي کولی شي اضافي لیکنه اضافه کړي او د ژبې نورې اجزاوې هم وکاروي (لکه، د اضافة توري: هغه توري چې د کرکټرونو د احساساتو په اړه وضاحت ورکوي لکه، اخخخ، واو، هورررا، اررری او داسې نور). همدا راز هغوی کولی شي قیاسي کلمات هم وکاروي لکه، استعاره، تشبیهات او داسې نور ترڅو خپله لیکنه نوره هم د لوستونکي لپاره په زړه پورې او جالبه کړي.
- زده کوونکي کولی شي د خپل کتاب مخکینی پوښ ډیزاین کړي.
- زده کوونکي کولی شي د کیسي لنډیز د کتاب، د کتاب په اړه د خپلې کورنۍ د غړو نظرونه په شاتني پوښ باندې ډیزاین یا طرح کړي. د کورنۍ د غړو نظرونه ممکن په دا ډول وي: پلار: دا کیسه ډیره زړه راښکونکې وه. خور: دا کیسه ډیره خوندوره وه. او داسې نور.

### د آسانتیا لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولی شي د کیسې د هرې برخې په اړه یو څو پرګرافونه او یا هم یو څو جملې ولیکي.
- د ځینو زده کوونکول لپاره کولی شی د لیکدود له ځینو قوانینو څخه صرف نظر وکړی.
- زده کوونکي کولی شي د کیسې ویلو لړۍ برخې زده کړي.

## لومړۍ ضمیمه: تصادفي شواهد (لیکوال: جوایس آن لیرډ)

آغلې ډاولینګ په قصدي ډول سره خپل ببر، لوی، د غمجنې قوارې لرونکی سپی د چمن څخه هاغه خوا ته له ځانه سره په کشکولو بوته. هغه د یوه کور دروازې ته ورسیدله او د کور د دروازې زنګ یې په تکراري ډول سره وواهه. آغلې وینټر دروازه پرانیستله، مګر مخکې له دې چې هغه کوم څه ووایي سپی د آغلې ډاولینګ د لاس څخه خلاص شو او د کور په پرانیستل شوې دروازې باندې کور ته ننوت.

آغلې ډاولینګ خپلې ګاونډۍ ته وویل چې ستا سپی زما په چمن کې وه، زما د ګلانو څخه ډک چمن یې رات ویجاړ کړی دی. په داسې حال کې چې سپی د هغې د ګاونډۍ د ښېښو شاته ولاړ وه او اغلې ډاولینګ ته یې کتل، هغې په ختېو باندې ککړ سپې ته وکتل او وې ویل، اوګوره هغه اوس هم په ختېو او خاورو باندې ککړ دی. زما د ګلانو د بیرته جوړولو قیمت دادی. هغې یوه ورقه چې له مخکې څخه یې پرې خپل نوټ لیکلی وه خپلې ګاونډۍ ، اغلې وینټر، ته ورکړ، او بیرته تاوه شوله او په چمن کې د خپل کور لوري ته ولاړه.

منډې وینټر د اغلې ډاولینګ له تګ څخه وروسته خپله دروازه بنده کړه او د کور لوري ته یې مخ کړ. د هغې ځوی په خاورو او ختېو باندې ککړ سپی په خپله غېږ کې نیولی وه او لوبې یې ورسره کولې. هغې وویل، مونږ ددې له عهدې څخه نشو وتلی، ټامي. ده مخکې د اندې مارټین د پیشکې لوبې مات کړې ول او اوس وګوره دا کار یې وکړ! هغه همیشه د حویلې څخه بهر ته ځي. او کله چې یې په ځنځیر وتړو، بیا ټوله شپه غاپي. ما خپله ټوله هڅه وکړه چې ستا سره مرسته وکړم ترڅو ته هغه په دې کور کې وساتې، خو ماته دا کار ډیر ناشونی ښکاري.

ټامي په لوړ غږ سره وویل، هغه داسې نه دی. د چارلي موخه هیڅکله هم داسې نه وه! ددې خلکو چارلي نه خوښیږي. ټامي خپلې مور ته شا کړه او د کور څخه بهر په منډه شو او چارلي هم ورسره په منډه ووت. هغه د یوه باغ په څنډه باندې کښیناست چې ددوی د کور د

چمن سره یې دیوال شریک وه. ټامي خپل سپي (چارلي) ته ووېل، چارلي ته نباید دا کارونه وکړي! که داسې کارونه نور وکړي، مور به تا له کوره څخه وباسي! بیا هغه د خپل سپي په خیرنو ویښتانو کې خپل مخ پټ کړ.

«ممکن دا کار هغه نوي کړی. زما پلار وایي، تاسو باید هیڅ وخت یو څوک مخکې له ثبوت نه مجرم ونه ګڼئ، زما پلار یو ډیر ښه وکیل دی.» چارلي پورته وکتلې. د هغه نیږدې ملګرې کایل پیټرسن د دیوال له هاغه خوا څخه دته کتلې.

«اغلې ډاولینګ نن دا ولیده چې دا خراب کاري یې کوله. هغې دا ونیوه او زمونږ کور ته یې راوسته.»

کایل له دیوال څخه ښکته راغله. ټامي ووېل، ممکن یو څه شي دا مجبوره کړی وي چې دا کار وکړي.

«مثلاً، څه؟»

«کوم بل سپی؟»

ټامي ووېل، اغلې ډاولینګ خو د بل سپي په اړه هیڅ هم ونه وېل. همدا راز، خاله انډي مارټین هم د کوم بل سپي اړه څه ونه ویل کله چې

د هغې د پیشکې ټول ظروف مات شوي ول. هغې ووېل چې هغه ډاډه ده چې چارلي یواځینی سپی دی چې دا کار یې ترسره کړی ده.

«ممکن کوم بل سپی د اغلې مارټین حویلې ته ننوتلی وي. ښاغلی مارټین چې یو سپنږیری سړی دی، همیشه خپل د پیشکې ظروف له کور څخه بهر پریږدي. هغه خو ندي ویلي چې هغه چارلي ولید چې ظروف یې مات کړل، که داسې نده؟

خو مګر چارلي همیشه د هغې پیشکې پسې منډې وهي بلخصوص کله چې هغه زمونږ د کور په دیوال باندې راپورته شي. او همدا رنګه، د اغلې شیډ په اړه څه فکر کوې؟ ښاغلي بایلي ووېل چې د هغه په سرتوشکۍ بادې د ختو څخه ډک د پښو نښانې وي. او د هغه د وچو خوړو صندق هم څیرې ویرې شوی وه. او په هماغه شپه چارلي په ختو باندې هم ککړ پکړ وه.

چارلي ټامي ته وکتل او داسې احساس یې کوه چې څه خبره خو ده. چارلي خپل سر د ټامي د لاس لاندې کړ ترڅو ټامي یې وګروي.

زما بیچاره چارلي. هغه خو درې ځلې وهل خوري. بیا ټامي خپل سپی چارلي په غیږ کې ونیوه. چارلي د خپل ملګري ټامي په ستونزې باندې پوهیده او هغه ته یې کرنجهار پیل کړ او د هغه مخ یې په خپله اوږده ګلابي ژبه باندې وڅټه.

کایلي خپلو خبرو ته دوام ورکړ، مګر هیڅ چا هم چارلي په دغو کارونو باندې ندی لیدلی، همداسې نده؟

ټامي ووېل، خو نن سهار ته وګوره؟ ما درته ووېل چې اغلې ډاولینګ زما سپی لیدلی دی. هغې دا په داسې حال کې ونیوه چې د هغې ګلان یې سپړل – هغې دا بلفعله په دې کار باندې ګیر کړی دی.

کایلي ووېل، ممکن هغې ټول شیان نوي لیدلي. شاید هغې نیم کار لیدلی وي. حتما به تیاره وه، یواځې یو ساعت کیږي چې لمر راختلی دی.

خو ستا په نظر که کوم بل شی هلته وی لکه کوم بل سپی، آیا ستا به نظر هغې به هغه بل سپی نه وی لیدلی؟

کچیرته هرهغه څه چې وه د بوټو لوري ته منډه کړي وي او ځان یې هلته پټ کړی وي، فکر نه کوم چې هغه به هغه شی لیدلی وي ځکه هغه بوټي ډیر ګڼ دي.

ټامي وویل، که چارلي پسې منډې وهلې وی؟ پرېږده نو، هیڅ څوک به هم په دې خبرو باور ونه کړي!

«شاید مونږ وکولای شو دا ثابت کړو. زه یو نظر لرم. راځه زما کور ته راشه. دلته یو شی شته چې مونږ دواړه یې باید یوځای کېږدو.» کایلي بیرته په دیوال باندې هاغه خوا ته واوښته. ټامي هغې ته کتل، مګر هلته ور نغی.

کایل ټام او چارلي ته د دیوال څخه لاندې وکتل او ویې ویل: راځه راشه! هلته مه کښېنه! آیا ته نه غواړې چې چارلي وژغوري؟

ټامي وویل: ښیه سمه ده. فکر کوم ته سم وایې. زه به لږ په دې ځای کې وګرځیږم. زه چارلي تنها نه پرېږدم. (هلک او سپی دواړه د شاته دروازې په لور ولاړل)

کیل پلان ونیوه چې د سپي د خواړو یوه خلطه یې کیښودله، او د ښه وخت او ښه چانس په انتظار کې شول – دوی ډاډ تر لاسه کړ چې د کور څخه په ډېرې آرامۍ سره بهر ته ووتلی شي. دوی یو ګروپ او د کیل یوه ډیجیټل نوې کمره د خپلو اسلحو په حیث وکارول.

کله چې ټول ویده شول، ټامي او کایل دواړه له کوره څخه ووتل او د حیواناتو د خواړه یې د بوټو خواته واچول چې د کایل د کور شاته دیوال پوري نښتي ول. هغوی د خپل ځای څخه دا په نښه شوی ځای په ډېرې ښې توګې سره لیدل. چارلي د دوی دواړو په منځ کې پروت وه او په ډېرې خوښې سره یې خپل بیسکوټ خوړل چې ټامي ورته راوړي ول ترڅو دا آرامه وساتي.

په دې وخت کې چې دوی منتظر ول، د دوی د ښکار کولو لیوالتیا په ډېریدو شوه او ډېر وخت پرې تیر شو. په پای کې دواړه، ویده پاتې شول. قابو نیمه شپه وه، د ټامي خواته یو څه شی غرریده. ناځاپه ټامي له ډاره په چیغه شو. هغه د چارلي پړی په خپل لاس پورې تړلی وه. کله چې چارلي خیز واچوه، د هغه لاس وخوزیده. کایلي هم پورته خیز کړ او له ټامي سره یې مرسته وکړه ترڅو چارلي قابو کړي. یو شی د بوټو څخه په دې خوا را روان وه. هغه ډېر غټ، تور او د وړیو څخه ډک وه.

کایلي په نرم غږ سره وویل، زه به خپله کامره را واخلم. ته چارلي غلی وساته. هغه مه ډاروه. مونږ باید ددغه شي عکسونه واخلو. ترهغې چې ما درته نه وي ویلي ګروپ مه روښانه کوه.

ټامي په یو لاس باندې ګروپ هماغه ځای ته سیده کړ او په بل لاس باندې یې چارلي ونیوه چې خپل غاښونه یې را ویستلي ول او د ملا ویښتان یې نیغ نیغ ولاړ ول.

چارلي په غپا پیل وکړ او د هماغه ځای په لوري یې منډې کړي او ټامي یې هم له ځانه سره کش کړ او د هغه په لاس کې ګروپ روښانه شو. کایلي دوی پسې ورمنډې کړې او د منډو په وخت کې یې عکسونه اخیستل.

د هغه شي سترګې د ګروپ د روښنايۍ له امله د یو څه وخت لپاره بې حسه شوي. او یو رنګ غږ یې وکړ. کایل خپلو عکسونو اخیستلو ته دوام ورکړ. ټامي په یو رقم سره خپلې پښې یو شي ته په چمن کې ونښولولې او چارلي یې ودروه.

د نیمې شپې غل خپلې مخکینۍ پښې اوچتې کړې او دوی ته یې وکتل. هغه یو راکوون وه چې قابو د چارلي په اندازه لوی وه. هغه په ارامۍ سره یو څو مړۍ نور خواړه هم وخوړل او بیا په ډېرې آرامتیا سره بیرته بوټو ته ننوت.

ټامي وویل، اوهو چارلي دده پسې منډې وهلې. دا خو ډېر لوی دی!

هغه د شپې له خوا خواړو پسې ګرځي ځکه یې خو هیڅ څوک هم نه ویني. ما اوریدلي دي چې رکوون خزندې هم خوري. دوی حتی هغه دانې چې موش خورما پټې کړې وي هم پیدا کوي او خوري یې. زه ډاډه یم چې دا به د موش خورما دانې په چمن کې کتلې چې چارلي دا لیدلی وه.

ټامي وویل، همداسې ده. بیا چې کله لمر را ښتلی دی، راکوون هم بیرته خپل ځای ته تللی دی. اوس مونږ ددې ثبوت لرو چې چارلي دا ټول کارونه نه دي کړي.

دا چې چارلي وغپل او ټامي هم چیغې کړې، په ګاونډ کې د ټولو خلکو په کورونو کې ګروپونه روښانه شول.

د کیل پلار له پورته یوې کړکۍ څخه غږ وکړ، تاسو دواړه پدې نه پوهیږئ چې څو بجې دي؟ او په دې ناوخته کې تاسو هلته څه کوی؟

کیل په خوږ غږ او افتخار سره چې کامره یې هم په لاس کې وه خپل پلار ته وویل، نه پلاره! زه د یوه بې ګناه مشتري مسئله ور حل کوم. لکه څنګه چې یې ته ترسره کوې.

**دوهمه ضمیمه: د کیسې بورډ**

| د عمل ترسره کیدل | شخړه | تفصیل |
|---|---|---|
| | | |
| | | |

| د حل لاره | د عمل ترسره کیدل | منتها اوج |
|---|---|---|
| | | |
| | | |

## دریمه ضمیمه: انتقالي کلمات (د ربط کلمات)

په پیل کې
دا پیل شو
له هغې څخه وروسته
په جریان
په پای کې
ډیر ژر
په آخر کې

له دې وروسته
اول
دوهم
یو ځأ
په همدغه وخت کې
وروسته
په پیل کې
یو څه وخت وروسته
کله چې مونږ ختم کړ
آخری شی
له هغه څخه دفعتا وروسته
ډیر وخت لا نه وه تیر شوی
دقیقې وروسته---------
کله چې زمونږ کار خلاص شو
سم دلاسته
ډیر ژر
وروسته

وروسته
په مجرد د
مخکې
پیل کړ
بیا
په ابتداء کې
اوس
کله چې
دفعتا
هم مهاله
په آخر کې
وروسته
ځکه چې
ناڅاپه
دا چې
که څه هم
هر کله چې
ژر

## څلورمه ضمیمه: د مزاج اندازه کوونکی

**د مزاج اندازه کوونکی**

| پای | وسط | پیل |
|---|---|---|
| • ______ | • ______ | • ______ |
| • ______ | • ______ | • ______ |
| • ______ | • ______ | • ______ |